قــرآني او نــبوي لارښــود

# حجاب

مفتي محمد شفيع عثماني رحمه الله

ژباړه، تسـهيل او تعلـيق
مولوي احمد الله هاشمي

حجاب قرآني او نبوي لارښود

مفتي محمد شفيع عثماني رحمه الله

ژباړه، تسهيل او تعليق: مولوي احمد الله هاشمي

# The Guidance of Hijab in Quran and Sunnah

**Author:**
Mufti Mohammad Shafi Osmani
**Translated by:**
Mawlawi Ahmadullah Hashimi

ISBN 978-9936-661-79-0

2023

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د ژباړې مرکز

# حـجاب

## قـرآنـي او نبــوي لارښــود

مفتي محمد شفیع عثماني رحمه الله

**ژباړه، تسهیل او تعلیق**

مولوي احمدالله هاشمي

## د کتاب ځانګړنې

**د کتاب نوم:** حجاب (قرآني او نبوي لارښود)

**لیکوال:** مفتي محمد شفیع عثماني رحمه الله

**ژباړه:** مولوي احمد الله هاشمي

**ایډیټور او مهتمم:** دکتور نورالحبیب نثار

**مقابله:** مولوي عبدالصمد کاتب

**د چاپ کال:** ۱٤۰۲ل / ۱۴۴۵ هـ ق

**د چاپ ځای:** بهیر مطبعه

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

ISBN : ۰- ۷۹- ٦٦۱- ۹۹۳٦- ۹۷۸

**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

**سرلیک** **مخګڼه**


د مرکز نظر ........ أ
څو خبرې ........ ج
تمــهید ........ ۱
تمهید ........ ۲
ـ حجاب څه ته وایي؟ ........ ۲
ـ د حجاب د حکم د نزول تاریخ ........ ۳
ـ د ستر او حجاب توپیر ........ ۵
لومړی بحث ........ ۱۱
د حـجـاب آیـتـونـه ........ ۱۱
لومړی آیت ........ ۱۲
تفسیر: ........ ۱۲
ـ سبب النزول ........ ۱۳
دوهـم آیت ........ ۱۸
تفسیر: ........ ۱۸
ـ د کاکا او ماما د عدمِ ذکر وجه: ........ ۱۹
ـ له کافرو ښځو څخه د حجاب حکم ........ ۲۰
ـ د ﴿وَ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ﴾ مراد ........ ۲۰
ـ احـکــام ........ ۲۱
دریـم آیت ........ ۲۳
تفسیر: ........ ۲۳
ـ د ځینو کلماتو تفسیر ........ ۲۳
ـ د تستر څرنګوالی ........ ۲۵

ځلورم آیت ........................................................................ ۳۵
تفسیر: ........................................................................ ۳۵
پنځم آیت ........................................................................ ۴۱
تفسیر: ........................................................................ ۴۱
شپږم آیت ........................................................................ ۴۹
اووم آیت ........................................................................ ۷۶
دوهم بحث ........................................................................ ۷۹
حدیثونه ........................................................................ ۷۹
د حجاب (۷۰) حدیثونه ........................................................................ ۸۰
دریم بحث ........................................................................ ۱۱۳
د آیتونو او حدیثونو تطبیق ........................................................................ ۱۱۳
د آیتونو او حدیثونو تطبیق ........................................................................ ۱۱٤
د شرعي حجاب حد، درجې او احکام ........................................................................ ۱۱٤
د مالکیانو مذهب: ........................................................................ ۱۲۲
د شافعیانو مذهب: ........................................................................ ۱۲۳
د حنبلیانو مذهب ........................................................................ ۱۲۵
د احنافو مذهب ........................................................................ ۱۲۵
ـ وروستۍ فیصله: د ټولو مذاهبو اتفاقي خبره ........................................................................ ۱۳۶
ـ د حجاب د متضادو نصوصو جمع او تطبیق: ........................................................................ ۱۳۸
ـ د حاجت په وخت کې د ښځو د وتلو شرطونه: ........................................................................ ۱٤۰
په حجاب کې استثناآت ........................................................................ ۱٤۷
خاتمه ........................................................................ ۱٤۹
د احکامو په تصدیر کې د شریعت مزاج او حجاب ........................................................................ ۱٤۹

# د مرکز نظر

موږ د ارتباطاتو په زمانه کې ژوند کوو او ترجمه د ارتباط او مفاهمې یوه مهمه وسیله او طریقه ده. همدارنګه د دې وسیلې او طریقې په مرسته د علومو او فنونو زېرمو او سرچینو ته لاره پیدا کوو او معرفت حاصلوو. څرنګه چې د ژباړې فن د بشري ټولنو له جوړېدا سره سم پیل شوی او د دوی له غوښتنو سره په تړاو یې انکشاف کړی، نو دې ټکي ته په پام، په هېواد کې د اسلامي امارت تر قیام وروسته د علومو اکاډمۍ په چوکاټ کې د ژباړې مرکز ایجاد شو. هدف یې دا دی، چې د هېوادوالو علمي، فرهنګي او تخنیکي اړتیاوو ته په کتو د علومو، فنونو او ټکنالوژۍ د بېلابېلو ډګرونو اړوند اړین او زبده آثار د هېواد ملي او رسمي ژبو ته راواړوي او خپاره یې کړي.

د علومو او فنونو وده او پرمختیا د پوهې په راخپلولو کې د بشر د پرلهپسې هلو ځلو او تجربو نتیجه ده، چې د نړۍ تر ټولو غوره علمي او فرهنګي میراث بلل کېږي او د نړۍ فرد فرد ته په کار دي، چې پکې ونډه ولري. د دغې ونډې د جوتونې یوه نېغه او آسانه لار د نورو له تجربو څخه استفاضه او استفاده ده. د ژباړې مرکز غواړي، چې له دغې لارې څخه په ګټه د دغو او دې ته ورته نورو علمي او فني آثارو د ژباړې او خپراوي پر مټ د خپل دین، وطن او ثقافت د ودې او پرمختیا په هڅه او هاند کې خپله ملي او اسلامي فریضه ادا کړي.

د ژباړې مرکز ویاړي، چې د ایجاد له وخته یې تر اوسه په لسګونو علمي او تخصصي آثار د هېواد ملي او رسمي ژبو ته را اړولي او خپاره کړي دي او دا دی، د دې علمي او تخصصي اثر ژباړې او خپراوي سره د علم او معرفت د تعمیم او ترویج په لاره کې یو بل مهم او مستحکم ګام اوچتوي. مرکز د ژباړن، مصحح او مهتمم مننه کوي، چې د دې اثر د ژباړې، تصحیح او اهتمام کار یې په

پوره لېوالتیا، مینې او اتقان سره ترسره کړی دی.

د ژباړې مرکز د اسلامي، بشري او طبیعي علومو، فنونو او نورو مؤثقو معلوماتي آثارو د ژباړې، تصحیح، اهتمام، طباعت او اشاعت د چارو د بهبود لپاره د هېواد دننه او له هېواده بهر د ژباړونکو مشورې او همکارۍ ته د قدر په سترګه ګوري او ژمنه کوي، چې د دوی ژباړلي آثار به خپلو وسیلو او امکاناتو ته په پام په لوړ معیار او کیفیت چاپ او خپروي. هیله ده، چې درانه لوستونکي د مرکز د ژباړل شوو او خپرو کړو آثارو د بډاینې او بهبود په اړه خپل نظرونه، وړاندیزونه او سپارښتنې له مرکز څخه ونه سپموي.

په درنښت

د ژباړې مرکز

# ځو خبرې

ډېر ځله داسې کېږي چې يوه ملګري خوشبويي وهلې وي او ورسره له روغبړه وروسته زموږ د خيال پر تخته د ده او خوشبويۍ ترمنځ د اړيکې کرښه راکښل شي، نو بيا چې هر کله دغه خوشبويي حس کوو، ذهن ته مو له واره هماغه ملګری راځي.

ته به وايــــې پرېشاني ده شيندل شوې

له يو چا د عطرو بوی دی پاتې شوی

کله کله د حجرې دېوالونه او خښتې هم په خبرو راشي، يو شهيد ملګری دريادوي او د زړه پر مالت مو دردونکې صحنې اړوي را اړوي. علت يې همدا خيالي رابطه وي چې يو وخت مو په همدې حجره کې ښايي له هغه شهيد ملګري سره يوه خوله مجلس کړی وي.

د ورک طالب پر کلي راغلم

ما يې خالي حجرې ته پورته کړل لاسونه

دا خيالي تړون او رابطه په ډېرو شيانو کې ليدی شو، مثالونه يې ډېر دي خو له رسالې سره د مناسبت په پار به د حجاب په رابطه د شريعت اهتمام ته وګورو چې همدا خيالي اړيکه يې هم په کې مطرح کړې ده.

اسلامي شريعت د نارينه له پاره دا مکروه کړې چې له ښځې څخه پر پاتې شويو اوبو اودس وکړي؛ لامل دا دی چې له دغو اوبو سره د ښځې نسبت قايم شوی او ممکن همدا ښځه نارينه ته په خيال کې ورولې. حديث کې راځي: نهی رسول الله صلی الله عليه وسلم عن فضل طهور المرأة. رواه الترمذي

حکيم الاسلام قاري محمد طيب رحمه الله وايي: دا ممانعت يوه سدالذريعه ده؛ ځکه خيالي اختلاط ځينې وخت حقيقي اختلاط لره لاره کوي، نو د همدغې

لارې د بندولو په خاطر شريعت مسلمانانو ته د خيالي پردې تعليم ورکړی دی.
د فقهاوو له ځينو مسائلو څخه هم خيالي پرده استنباط کېدی شي؛ ځيني فقهاء وايي چې امام به د ښځې د جنازه کټ سينې لوري ته نه درېږي. که څه هم د ښځې سينه پټه وي او بل مړی هسې هم د شهوت او کشش محل نه دی، نو پوهېږو چې دا حکم يې يوازې د خيال د پاکۍ په وجه کړی دی، چې د نارينه په زړه کې د ښځې خيال تېر و بېر نه شي.
دغه راز، په هدايه کې راغلي دي: «لَا يَنْوِي النِّسَاءَ فِيْ زَمَانِنَا. وَفِيْ كَلَامِ الشُّرَّاح: لِفَسَادِ الزَّمَان، فَإِنَّ الإِمَامَ لَايُنَاسِبُهُ مُلَاحَظَةُ النِّسَاءِ، لِتَوَجُّهِ الْخَاطِرِ إِلَيْهِنَّ». (زموږ په زمانه کې به امام د ښځو نيت نه تړي. د هدايې شارحينو يې وجه د زمانې فساد ښودلی؛ ځکه امام ته مناسبه نه ده چې ښځې په نظر کې ونيسي او هغوی ته يې توجه ورواوړي).
نو اسلامي شريعت چې د پردې په باب دومره اهتمام کړی چې خبره يې حتی تر خياله هم رسولې، نو حسي او حقيقي پرده خو بيخي ضروري ده.
د حجاب باره کې دغه رساله علمي او دقيقه ده او د اسلامي شريعت اصلي مزاج بيانوي. چې موجوده شرايطو ته په کتو، د علومو اکاډمي د محترم رييس، شيخ فريدالدين محمود حفظه الله په غوښتنه وژباړل شوه.
دا رساله له احکام القرآن څخه راخيستل شوې ده.
**احکام القرآن:**
په احکام القرآن للتهانوي مشهور دی. چې حکيم الأمت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله ته منسوب دی؛ ځکه د ليکلو منهج هغه ورته ټاکلی او وخت په وخت به يې د کمېټې اشراف هم کاوه. په کمېټه کې درې علماء وو: يو، شيخ ظفراحمد عثماني، دوهم، مفتي شفيع عثماني او دريم مولانا ادريس کاندهلوي

رحمهم الله. لومړی او دوهم ټوک یې شیخ ظفر احمد عثماني رحمه الله، درېم او د څلورم ټوک یو څه حصه یې مفتي شفیع رحمه الله او د څلورم ټوک پاتې برخه یې مولانا محمد ادریس کاندهلوي رحمه الله لیکلې ده. وروسته، نورو علماوو د اشرف علي تهانوي رحمه الله د ټاکلي منهج پر اساس، تر ۱۸ جلدونو پورې رسولی دی.

**د رسالې منهج:**

۱- په تمهید کې د حجاب تعریف، اصطلاحات، د ستر و حجاب توپیر او د حجاب د نزول تاریخ بیان شوی.

۲- د حجاب آیتونه له مختلفو او معتبرو تفسیرونو څخه تفسیر شوي دي.

۳- د حجاب په حدیثونو کې د یو څو احادیثو په استثناء چې شرح شوي، نور خالص احادیث راغلي.

۴- د حجاب په درجو کې درې درجې بیان شوې دي، چې لومړنۍ دوې یې منصوصې او غیر اختلافي دي او درېمه یې اختلافي او اجتهادي ده چې د ټولو مذاهبو رأیه په کې بیان شوې او په پای کې یې خبره اتفاق ته راټوله کړې ده.

۵- د حجاب د درجو له پاره چې دلایل بیانوي، نو په شمېرو ورته اشاره کوي، ځکه مخکې د حجاب پر نصوصو دوه بحثونه شوي، چې اووه آیتونه او اویا حدیثونه دي.

٦- په خاتمه کې یې د احکامو د صدور په باب د شریعت مزاج وړاندې کړی او بیا یې د حجاب حکم ور باندې تللی دی.

**ستونزې او تغییرات:**

مفتي شفیع رحمه الله په احکام القرآن کې نورې رسالې هم لیکلې او د رساله والي تنبیه یې هم پرې کړې ده، خو د حجاب په باره کې دغه تنبیه نه وه او نه یې

جوړښت د رسالې و. نو دغې لیکنې ته مو مجبوراً د مؤلف د نورو رسالو په څېر ترتیب و ډیزاین ورکړ:
ـ مؤلف رحمه الله د لیکنې شروع په یوه آیت کړې؛ بیا یې د حجاب تاریخ راخیستی او ورپسې یې د حجاب و ستر توپیر کړی. موږ د حجاب تاریخ او د عورت و حجاب توپیري نکتې سرته راوړې او په سر کې مو د حجاب د تعریف او د حجاب په مسأله کې استعمالېدونکي اصطلاحات ورزیات کړل. چې عنوان مو (تمهید) ورکړ.
ـ همدغه آیت مو له تمهید وروسته، د لومړي مبحث په سر کې راووړ چې لومړی مبحث د حجاب په باره کې د قرآني آیتونو تفسیر دی.
ـ له دغه آیت څخه مو ځیني هغه بحثونه ایستلي چې له موضوع سره یې سمی نه خوړ. چې هغه د دعوت د آدابو اصول او داسې نور وو.
ـ دغه لیکنه (د یو څو ځایونو په استثناء، چې عنوانونه یې درلودل) په یوه رُخ لیکل شوې وه چې د لوستونکي له پاره ستونزمنه وه. نو ځای ځای مو عنوانونه ورکړل چې د رسالې سکښت و رغښت ته هم وفادار پاتې شو او د موضوع په تسهیل کې هم مرسته وکړي.
- په دې لړ کې له دوه ډوله کتابتي غلطیو سره مخامخ شوی یم: یو له مأخذونو څخه د عبارتونو په نقل کې غلطي، بل په تطبیقي څېړنه کې غلطي، مثلاً کله چې مؤلف رحمه الله په اویاوو حدیثونو کې دیارلسم حدیث یادوي، نو هغه به په اویاوو حدیثونو کې دیارلسم نه و، بله شمېره به یې وه.

**د ژباړې منهج:**

۱- د علماوو ځیني اقوال، چې ظاهراً ترې برداشت نه شوای کېدی، په قوسونو کې تفسیر شوي دي.

۲- ځيني هغه قولونه چې په قوسونو کې دننه تفسير يې پوره کار نه ورکاوه، په تعليق کې تشريح شوي.
۳- د آيتونو ژباړه له کابلي تفسير څخه را اخيستل شوې ده.
۴- د احاديثو ژباړه د حديثو له معتبرو شروحو را ايستل شوې ده.
۵- په احاديثو کې ځينې نادرې جملې، چې بنيادم ته به يې پوښتنه ور ولاړوله، په تعليق کې تشريح شوې دي.
۶- آيتونو ته دا ﴿ ﴾، احاديثو ته دا « » او د ځينو مغلقو جملو توضيح ته دا ( ) قوسونه کارول شوي دي.
اللهم اغفرلي ولوالدي ولمؤلفها ولمن سعی فيها

ملا احمدالله هاشمي

د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژباړې مرکز

کابل